مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۶/۱۵

# د افغانستان د اسلامي امارت مشرانو ته پنځم پرانیستی لیک

**د اسلامی امارت مشرانو! السلام علیکم.**

دا مي تاسي ته پنځم او ښايي ورستی پرانیستی لیک وي. زما مخکنيو څلورو لیکونو ته مو نه یوازي جواب نه دی ویلی بلکه زما پر ټولو اعتراضونو او پیشنهادونو مو غوږونه کاڼه اچولي دي.

په دې کي شک نشته چي زه ستاسي د اکثرو تعلیمي او اجتماعي پروګرامونو سره مخالف یم او دا مخالفت مي هیڅ وخت پټ کړی نه دی. خو یو افغان یم او له خپل وطن سر ه د خپلي مور د غېږي په څېر مینه لرم.

که څه هم چي تاسي له لومړي سره هم، د خپلو پروګرامونو د عملي کولو په لاره کي له هیڅ ډول نرمښت څخه کار نه دی اخیستی خو په دې وروستیو کي، په تېره بیا د هرات د ښځو او نجونو په مقابل کي مو نه یوازي له وچ زور بلکه د ټوپک څخه کار واخیست. تاسي غواړی خپل تعلیمي او اجتماعي پروګرامونه، چي د نړۍ په هیڅ اسلامي هیواد کي یې ساری نسته، په وچ زور او حتی د ټوپک د استعمال په وسیله عملي کړی. خو هم زموږ نیکونو ویلي دي چي « په زور کلي نه کېږي» او هم د بشر تاریخ ښودلې ده چي په زور تر یوه وخته پوري حکومت کېدلای سي خو په نړۍ کي هیڅ ډول استبدادي او ظالم نظام د خلکو د مخالفت، قهر او مقاومت په مخ کي ټینګ سوی نه دی، ستاسي نظام هم د تاریخ له عام حکم څخه مستثني کېدلای نه سي. تاسي له بدخشان څخه تر نیمروز پوري، پر ټول افغانستان باندي تسلط لری. خو ز ه په یقین سره ویلای سم چي د افغانستان د څلوېښت میلیونو خلکو څخه په سلو کي پنځه نیوي ناراض دي.

داچي ستاسي د زور ظلم د پالیسیو له امله، چي ټول قدرت مو طالب وملا ته سپارلی او د هیواد په سلهاوزره ماهر کسان مو بېکاره کړي دي او زموږ جنرالان، استادان او پخواني عالي رتبه مامورین په بازارونو کي کراچۍ چلوي او یا فقر او ګدایی ته مجبور سوي دي اودا چي ستاسي په ټولو حکومتي ادارو کي چور او تالان روان دی دا خبري به خو یوې خواته پرېږدو. خو د خلکو اعتراضونو ته په زور جواب ویل بېخي بله موضوع ده. تاسي له خلکو څخه وسلې اخیستلای او د هیواد ټول خلک خلع سلاح کولای سی خو د یو میلیون انسانانو په لاسونو کي د ډبرو او لرګیو سره هټلر هم مقاومت نه سي کولای.

پنځه کلونه کېږي چي د هیواد د نجونو پر مخ مو د ښونځي دروازې تړلي او ښځي مو په وچ زور پر کور کښېنولي دي. د نجونو پر مخ د ښوونځیو بندول او له عصري تعلیم سره ستاسي د بې پروایی په وجه هیواد تر شلو کلونو زیات شاته لوېدلی او لا به نور هم شاته ولوېږي. تاسي یوازي د نجونو پر مخ د ښونځیو دروازې بندي کړي نه دي بلکه په هرات کي مو د هغوی پر سوله ایزه مظاهره باندي ګولۍ وچلولې. د نجونو پر مظاهره باندي د ګولیو چلول د ټولو بشري، اسلامي او افغاني اصولو په خلاف عمل دی. دا ظالمانه او وحشیانه عمل به مو نه افغانان اونه تاریخ هېر او معاف کړي. ستاسي د امر بالمعروف طالبان په عامو بازارونو کي ښځو ته لاس اچوي، هغوی پوري وهي، ډبوي او موټرونو ته یې په زور ننه باسي. دا نه یوازي د افغاني اصولو او ناموسو په خلاف عمل دی بلکه د بې غیرتی داسي عمل دی چي له هیڅ ډول حکومت او اداري څخه یې تمه نه کېدله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

تاسي د هيواد شيعه ورونه، چي نفوس يې ښايي تر شپږو ميليونو پوري ورسيږي، دومره مجبور کړي او په تکليف کړي دي چي ملايان او خطيبان يې پر منبرونو باندي ستاسي پر ضد ويناوي کوي او ورته ناست کسان يې د الله اکبر په نارو بدرگه کوي. دا چي هغوی خپلي ويناوي په فيسبوکونو او يوټيوب کي خپروي او ستاسي څخه وېره نه لري دا ستاسي په مقابل کي د هغوی د مقاومت لومړنی پړاو دی. دا خلک يوه ورځ عملي اقدام ته لاس اچوي او خدای تر اوسه پوري داسي قدرت نه دی پيدا کړی چي د مذهبي جذبی په مقابل کي ځان ټينگ کړي. لکه څرنگه چي ستاسي ملايان او مذهبي عالمان شيعه ته کافر وايي؛ د هغوی په معتبرو مذهبي کتابونو کي سني ته کافر ويل کيږي. خودې دواړو مذهبي فرقو په دې هيواد کي له پېړيو راهيسي د يوه بل په څنگ کي په بشپړي کراری اووروگلوی ژوند کړی دی اوتاسي، په خپلو جابرانه پاليسيو، زموږ له هيواد څخه د کراری دغه کمبله ټولوی او زموږ هيواد به وچ زور، خدای مه کړه، د داخلي جنگ لمبو ته اچوی.

تاسي شيعه، تاجيک، اوزبيک، ترکمن او نور اقليتونه په حکومت کي له هر ډول قدرت څخه محروم کړي دي او کله څرنگه چي هغوی د پښتنو پر حقوقو باندي د تېري کولو حق نه لري تاسي هم د « ميم زر ما ټول يې زما» حق نه لری. ټول پوهيږي چي نن ورځ قدرت يوازي د پښتنو د طالبانو نه بلکه د پښتنو د يوه خاص سمت د طالبانو په لاس کي دی او د قدرت دغه ډول مطلق انحصار د ډېر ژور نفرت زېږنده دی.

د هرات وروستيو پيښو وښودل چي تاسي د هر ډول جبر او زور څخه کار اخيستلو ته تيار ياست. خو دا دي تاسي ته معلومه وي چي جبر اووحشت تر قيامته دوام نه سي کولای. لکه د هرات نجونو چي ستاسي د جبر اووحشت پروا ونه کړه يوه ورځ به د هيواد د هر کونج څخه د مقاومت ناره پورته کيږي او ستاسي هر ډول وحشت به يې په مقابل کي عاجز وي.

زه له هغي ورځې څخه وېرېږم چي په ټول هيواد کي به اور بل وي او دوست او دښمن به سره ورک وي. تاسي خو به بېرته پاکستان ته ولاړ سی خو هيواد به داسي اور ته واچوی چي نړی به يې تماشه کوي اوکرارول به يې د هيچا په وس پوره نه وي. د افغانستان ټول اقوام له پښتنو سره مخالف اوټول پښتانه به د کندهار دښمنان کړی. لکه څرنگه چي مي يو وخت د مولوي صاحب متوکل په مخکي ستاسي پخواني مشر ملامحمدعمر ته ويلي وه تاسي ته هم وايم چي موږ پښتانه ستاسي په هيڅ گټه کي درسره شريک نه يو خوتاوان به مو موږ ټولو ته راپاته وي.

قدرت ستاسي سترگي ړندې کړي او غوږونه کاڼه کړي دي. يوازي هغه وخت به ستاسي سترگي خلاصېږي او غوږونه به مو اوري چي له قدرته لوېدلي ياست او هغه وخت به نو هيڅ گټه نه کوي. تاسي به بېرته سيوري ته سی او هيواد به د اور لمبو ته پرېږدی.



[په افغان جرمن آنلاين پورتال کي د جهاني صاحب آرشيف]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ